اوونیزه
هفته نامه
# معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۱) ماه رمضان المبارک ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه حوت ۱۴۰۴ هـ ش.

**با ثبت نام اطفال تان در مدارس و مکاتب، سرمایه‌گذاری روی آینده فرزندان تان را آغاز کنید.**

## په ښوونیزو مراکزو کې د نویو زده کوونکو د جذب او نوم لیکنې په اړه

**د پوهنې وزارت اعلامیه**



بسم‌الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

درنو هېوادوالو! راځئ چې نوی ښوونیز کال د زده کړې او ودې په فرصت بدل کړو ترڅو مو د نن ورځې زده کړه د سبا ورځې د یو روښانه راتلونکي ضامن شي. علم او پوهه د یوې رڼا په څېر د انسان زړه او دماغ روښانه کوي، له بې لارۍ او مایوسۍ څخه یې ژغوري او خپلو موخو ته یې رسوي. له بلې خوا ناپوهي داسې تیاره ده چې انسان له وېرې، خطر او خوارۍ سره مخامخ کوي. الله جل جلاله په قرآن کریم کې د پوه او ناپوه د توپیر په هکله داسې فرمایلي:

(قُلْ هَلْ یَسْتَوِي الَّذِینَ یَعْلَمُونَ وَالَّذِینَ لا یَعْلَمُونَ) «سورة الزمر: ۹ آیة»

ژباړه: وواېه برابر دي آیا هغه کسان چې پوهېږي، او هغه کسان چې نه پوهېږي.

همدارنګه الله جل جلاله د علم ارزښت په اړه د قران کریم د بقرې سورې په ۳۱ آیت کې فرمایلي دي:

وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ) «سورة البقره:۳۱ آیة»

ژباړه: او وښوول الله جل جلاله آدم علیه السلام ته نومونه د ټولو شیانو بیايې وړاندې کړل دا ټول شیان ملائکو ته بیائې وویل وښایاست ماته نومونه د دې که چېرته تاسې صادقان یاست.

همدا شان زموږ ګران پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم د علم ارزښت په اړه فرمایلي چې د انسان تر مړینې وروسته هم ورته د هغه د ګټور علم اجر او ثواب ورسیږي.

ژباړه: کله چې انسان مړ شي د درې څیزونو پرته د عمل ثواب یې قطع کېږي؛ جاریه صدقه، هغه علم چې ګټه ترې واخیستل شي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي. (مشکوة االمصابیح: ص۳۲)

پورته آیتونو او حدیث شریف ته په کتو سره دې پایلې ته رسېږو چې علم او پوهه د خپل ځان او خالق جل جلاله د پېژندنې وسیله ده، دا هغه مهال شوني ده چې له علم سره عمل هم مل وي، د علم او پوهې تر لاسه کولو وروسته موږ ته ښایي چې د خپلو زده کړو په مټ د ټولنې د هوساینې، سوکالۍ او د خپلو هېوادوالو او ملک د نیکمرغۍ لپاره کار او هلې ځلې وکړو.

قدرمنو والدینو! په نوي ښوونیز کال کې په ګډه د یوې لویې موخې د تر لاسه کولو په لور ګام پورته کوو تر څو د ځان او راتلونکو نسلونو لپاره یو پرمختللی او په ځان بسیا ملک په میراث پرېږدو. چې دې موخې ته د رسېدو لپاره د علم او پوهې د زده کړې پرته رسېدل ناشوني دي، ځکه د علم او پوهې په ترلاسه کولو سره د انسان په وجود کې بې شمېره فضیلتونه وده او عروج کوي لکه: ښه سلوک، له یو بل سره مرسته، عدالت، مرحمت، امانت پالنه، رښتینولي، صبر او زغم ، وفا، حیا، قوت، عاجزي، سخا، شجاعت او غښتلتیا چې په پایله کې د نېکمرغه ټولنې د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي.

کله چې یاد اوچت خویونه د علم او پوهې د زده کړې په ځانګړې توګه د اسلامي زده کړې له برکته د انسان په وجود کې ځای ونیسي نو ښکاره خبره ده چې ظلم، جنایت، خرافات او نور ناوړه کارونه او دودونه به په ټولنه کې له منځه ځي، د باور فضاء رامنځ ته کېږي، ټول خلک په سوله او ورورګلوي کې ژوند کوي او په پایله کې د ټولنې د ودې او پرمختګ زمینه برابرېږي.

درنو هېوادوالو!


د ملک په کچه په مدرسو او ښوونځیو کې د نویو زده کوونکو د جذب او نوم لیکنې لړۍ روانه ده، بېړه وکړئ خپل ماشومان په یادو ښوونیزو مراکزو کې شامل او د هغوی روښانه راتلونکې تضمین کړئ.

**والسلام**
**الحاج مولوي حبیب الله آغا**
**د پوهنې وزیر**

## په ۱۴۰۴ کال کې ارزګان ولایت کې د ښوونیزو مراکزو د جوړېدو لپاره لسګونه جریبه ځمکه وقف شوې

ارزګان ولایت کې د مدارسو او ښوونځیو د ودانیو جوړولو او پراختیا په موخه، د روان ۱۴۰۴ لمریز کال له پیل څخه تر دې مهاله د مرکز ترینکوټ ښار او د دې ولایت د چنارتو، دهراوود، خاص ارزګان، ګیزاب او چورې ولسوالیو د معارف دوستو اوسېدونکو له لوري له ۱۲۰ جریبه څخه زیاته ځمکه پوهنې برخې ته وقف شوې ده، چې ارزښت یې ۱۱ میلیونه او ۴۳۶ زره افغانیو ته رسېږي. د پوهنې وزارت مشرتابه د ارزګان ولایت د علم‌دوستو اوسېدونکو څخه د هغوی د دیني او ملي احساس او د هېواد د ښوونیز نظام څخه د ملاتړ له امله مننه او قدرداني کوي او د هغوی دا نېک احساس د تعلیمي بنسټونو د پراختیا او د هېواد بچیانو لپاره د تعلیمي فرصتونو زیاتوالي په برخه کې حیاتي او مهم بولي.

## اثر علمی معین محترم تعلیم و تربیه وزارت معارف چاپ شد




اثر علمی محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف زیر نام ((رهنمود نظام خانواده و احکام تفریق زوجین)) تألیف و اخیرا اقبال چاپ یافته است.

این کتاب اثر با ارزش علمی برای وکلای مدافع، قاضیان، مفتیان، مدرسین، محصلان علوم شرعی و حقوقی می باشد که می توانند از آن در راستای تحقیق و فهم درست از عدالت خانوادگی، تطبیق دقیق اصول شرعی، ثبات و تحکیم جامعه در حل مسایل اجتماعی و مرتبط به وظیفه، همچنان در ترتیب و نوشتن تزسس ها و اسناد تحصیلی از آن منحیث منبع باوری و معتبر علمی استفاده کرد.

## اشتراک صدها تن در امتحان استخدام معلمان و مدیران مکاتب در ولایت پکتیکا



مسئولان در ریاست معارف ولایت پکتیکا میگویند برای استخدام ۵۳۵ تن معلمان و مدیران مکاتب مرکز و ولسوالی‌های این ولایت از ۸۴۵ تن کاندیدان واجد شرایط امتحان اخذ کرده است.

محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف ولایت پکتیکا گفت که این امتحان به منظور بلند بردن کیفیت روند تدریس و بهبود امور اداری برای جذب افراد شایسته و با تجربه راه اندازی شده بود. وی افزود؛ برای این بست‌ها به تعداد (۱۲۳۳) تن ثبت‌نام کرده بودند که از آن میان (۸۵۷) تن آن ها واجد شرایط شناخته شده و در نتیجه (۸۴۵) تن آن ها توانستند در امتحان شرکت

### در این شماره

په مدرسو او ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو په شاملولو سره ددوی روښانه راتلونکې تضمین کړئ — مخ ۲
سفر رئیس حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک وزارت معارف به ولایت بلخ — صفحه ۲
عید الفطر؛ هغه مبارکه ورځ چې زړونه سره نږدې کوي — مخ ۳

سرلیکنه

# په مدرسو او ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو په شاملولو سره د دوی روښانه راتلونکې تضمین کړئ

بسم الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوۃُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ
وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د نوي ښوونیز کال له پیل سره سم یو ځل بیا زموږ د هېواد بچیانو لپاره د زده کړې یو لوی فرصت رامنځته شو؛ داسې فرصت چې کولای شي زموږ د ماشومانو راتلونکی بدل کړي او زموږ د ملک د پرمختګ لپاره نوې هیلې را منځ ته کړي. ښوونه او روزنه د هر ملک د وګړو د سرلوړۍ، ځواک او پرمختګ تر ټولو مهمه وسیله ده. هغه ملتونه چې خپلو ماشومانو ته د زده کړې زمینه برابروي، تل د بریا، پرمختګ او سوکالۍ پر لور روان وي.

ماشومان د هرې ټولنې تر ټولو لویه شتمني ده. که موږ نن خپلو ماشومانو ته د علم او پوهې لار هواره کړو، سبا به همدا ماشومان زموږ د هېواد د آبادۍ، ښېرازۍ او پرمختګ معماران وي. خو که هغوی له زده کړو بې برخې پاتې شي نو ملک او ټولنه به مو له ګڼو ستونزو او ناخوالو سره مخ وي.

مدرسې او ښوونځي د علم او پوهې مرکزونه دي. په مدرسو کې زموږ ماشومان د خپل دین او اسلامي ارزښتونو په اړه زده کړه کوي او د ښوونځیو له لارې د عصري علومو، ساینس، ټکنالوژۍ او نورو اړینو موضوعاتو په برخه کې زده کړه تر لاسه کوي، کله چې یو ماشوم هم دیني او هم عصري زده کړه ترلاسه کړي، هغه به په راتلونکې کې د اسلام او ملک خدمتګار انسان جوړ شي.

نن ورځ د ماشومانو د زده کړې په برخه کې د کورنیو، ټولنې او زموږ ګډ مسئولیت دی چې خپل ماشومان له ناپوهۍ او بې سوادۍ وژغورو او د علم په ګاڼه یې سینګار کړو. هېڅ ماشوم باید له زده کړو بې برخې پاتې نه شي. هغه ماشومان چې لا تر اوسه په مدرسو او ښوونځیو کې شامل شوي نه دي، باید ژر تر ژره شامل شي، څو د زده کړې له نعمت څخه برخمن شي.

درنو هېوادوالو! راځئ چې د نوي تعلیمي کال له پیل سره سم یو پیاوړی هوډ وکړو: هغه دا چې خپل ماشومان مدرسو او ښوونځیو ته واستوو، هغوی زده کړو ته وهڅوو او د علم ارزښت ورته په ګوته کړو. که موږ نن د علم تخم وکرو، سبا به انشاء الله د پرمختګ، سوکالۍ او روښانه راتلونکي حاصل تر لاسه کړو. نو راځئ چې د علم او پوهې دا ارزښتناک سفر د یو او بل په ملتیا سره پیل او د خپلو ماشومانو سره په دې سفر کې د هغوی بشپړ ملاتړ وکړو او هغوی یوازې پرې نه ږدو. د یوه ملک رښتینی ځواک په شتمنیو او شعارونو کې نه؛ بلکې د علم په رڼا کې دی چې راتلونکی روښانوي.

## د لوګر ولایت پوهنې ریاست له لوري څه باندې ۱۳ مېلیونه افغانۍ عواید راټول شوي

د لوګر ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي، چې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال په یولسو میاشتو کې یې په ټولیز ډول شاوخوا ۱۳ مېلیونه ۱۴۴ زره ۵۷۵ افغانۍ عواید راټول کړي دي.

یاد عواید د دولسمو او څوارلسمو ټولګیو فارغانو ته د شهادتنامو د وېش، د




۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور آزموینې د فورمو وېش او نوم‌لیکنې، له خصوصي تعلیمي بنسټونو څخه د مالیې راټولولو، د زړو او له کاره لوېدلو وسایلو د پلور او د استهلاک شویو توکو پلورلو له اړخه ترلاسه شوي، چې په رسمي ډول د دولت خزانې ته لېږدول شوي دي.

## په بدخشان ولایت کې یو باب ښوونځی ترمیم شو

د بدخشان ولایت ارګو ولسوالۍ اړوند «دهمګس» لومړنی ښوونځی، د معارف‌دوستو هېوادوالو او د همکارو بنسټونو په مالي مرسته ترمیم او د یادې اوسېدونکو لخوا پوهنې ریاست ته په واک کې ورکړل شوې وه، همدارنګه د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د یاد ښوونځي ودانۍ د ترمیم سربېره



ولسوالۍ د پوهنې مسئولینو په حضور کې په رسمي ډول ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د بدخشان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي د یاد ښوونځي لپاره ۱۱۰۰ متره مربع ځمکه د سیمې دري بابه تشنابونه، د لمریزې برېښنا سیستم نصب او یو حلقه د پاکو اوبو څاه جوړ شوي دي، چې په دې سره له ۳۸۷ څخه ډېرو زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شوی دی.

## سفر رئیس حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک وزارت معارف به ولایت بلخ

محترم مولوی سمیع الحق رئیس حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک وزارت معارف جهت تطبیق هدایات مقام عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان در خصوص پروژه ها و سایر امور ساختمانی و ترمیماتی وارد ولایت بلخ شد.

هیئت یاد شده با رئیس و رهبری ریاست معارف آن ولایت دیدار نموده و ضمن ارائه معلومات در مورد اهداف سفر خویش با ایشان در رابطه به تدارک زمین جهت احداث و اعمار مدارس دینی، چگونگی تطبیق پروژه های ساختمانی و ترمیماتی، حل منازعات املاکی معارف و سایر موضوعات مرتبط به آن بحث و گفتگو کرد.

رئیس حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک وزارت معارف در این سفر در حالی که از طرف مسئولان ریاست معارف همراهی می شد از مدرسه های فهیم بلال، ابوذر غفاری و دارالایتام مرکزی ابوهریره( رضی الله عنه) دیدن نموده و به مسئولین مراکز یاد شده هدایات و مشوره‌های لازم ارایه کرد.

## اخذ امتحان تثبیت سویه تعلیمی از ده ها تن مجاهدین در ولایت هرات

از ۲۹۰ تن مجاهدین که از ادامهٔ تعلیم باز مانده بودند از سوی ریاست معارف ولایت هرات امتحان تثبیت سویه اخذ شد.

مسئولان ریاست معارف ولایت هرات ضمن نظارت از روند برگزاری این امتحان از شفافیت و عدالت در این روند اطمینان داده و تأکید کردند که تمامی مراحل مطابق طرزالعمل و اصول تعیین‌شده اجرا می شود.

آنان هم چنان افزودند؛ افرادی یاد شده پس از سپری نمودن امتحان، بر بنیاد طرزالعمل وزارت معارف در صنوف نهم الی دوازدهم (شپی لیسه) جذب شده و زمینه ادامهٔ تعلیم برای آنان فراهم می شود.



## د جوزجان ولایت یو تن اوسېدونکي خپله ۴ جریبه شخصي ځمکه پوهنې ریاست ته وقف کړه

د جوزجان ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د یاد ولایت د منګجیک ولسوالۍ یو اوسېدونکي خپله شخصي ۴ جریبه ځمکه، د دغې ولسوالۍ پوهنې آمریت ودانۍ جوړولو په موخه پوهنې ریاست ته په واک کې ورکړه.

د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي لعل‌جان راشد وویل: یاده ځمکه د منګجیک ولسوالۍ اړوند په چهارچنغوي کلي کې موقعیت لري، چې اټکلي ارزښت یې له ۲۰۰ زره افغانیو څخه زیات دی او د مرحوم حاجي محمدقل بای د وارثانو له لوري پوهنې ریاست ته وقف شوې.

د پوهنې وزارت مشرتابه د مرحوم حاجي محمدقل بای د وارثانو دا د خیر او ښېګنې اقدام ستایي او له نورو هېوادوالو هم غواړي چې تر خپل توان پورې د معارف په وده او پرمختګ کې مالي او معنوي مرسته وکړي ځکه معارف په ټولو پورې اړه لري او پرمختګ یې هم د ټولو ګډ مسئولیت دی.

## کمک مالی اضافه از ۶۰۰ هزار افغانی با ۳ مکتب در ولایت پکتیا

در ولسوالی‌های خمکنی و زرمت ولایت پکتیا، به کمک مالی مردم و متنفذین قومی، برای ۳ باب مکتب به هزینهٔ مجموعی ۶۶۸ هزار و ۴۵۰ افغانی، سیستم‌های آب رسانی و برق آفتابی و برخې از تسهیلات ضروری دیگر فراهم شده است. محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی، رئیس معارف ولایت مذکور از مساعدت کنندگان ابراز قدردانی نموده و از سایر هم وطنان نیز خواسته است تا همکاری‌های شان را با مکاتب و مدارس ادامه دهند.

**Marif**
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندي برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 321 /2026

اعلامیه وزارت معارف

# در پیوند به جذب و شمولیت اطفال واجد شرایط در مراکز تعلیمی



بسم‌الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

هم وطنان عزیز! بیایید سال نو تعلیمی را به فرصت های آموزشی و توسعه مبدل سازیم، تا باشد یاد گیری امروز ما متضمین آینده روشن فردای ما باشد.

علم و دانایی به سان مشعل تابانی است که مغز و قلب انسان را روشنایی می بخشد و انسان ها را از سرگردانی و مایوسی نجات می دهد و آن ها را به اهداف شان می رساند.

از سوی دیگر، جهالت مانند تاریکی است که انسان را با ترس، خطر و بیچاره گی مواجه می سازد. الله( جل جلاله) در قرآن عظیم الشان در تفکیک تعلیم یافته گان با غیر آن چنین می فرماید:

(قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ ) (( سورة الزمر: ۹ آية))

ترجمه: بگو: آیا کسانی که می دانند و کسانی که نمی دانند، برابرند؟

به همین ترتیب الله پاک( جل جلاله) در رابطه به ارزش علم در آیت ۳۱ سوره بقره قرآن کریم، می فرماید:

وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ) (( سورة البقره:۳۱ آية))

ترجمه: ( یاد داد الله جل جلاله به آدم علیه السلام اسمای تمام اشیاء را و هم برای ملائک پیشکش کرد که بگویید نام تمام اشیاء را، اگر شما صادقان هستید.

هم چنان پیامبر گرانقدر ما، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) در خصوص علم فرموده که؛ اجر و ثواب علم برای انسان بعد از مرگ هم می رسد»،

ترجمه: وقتی که انسان فوت می کند، به استثنای سه چیز، ثواب تمام اعمال قطع می شود؛ صدقه جاریه، علمی که از آن استفاده مثبت شود و فرزند صالح که برایش دعا می کند.( مشکوه المصابیح، صفحه۳۲)،

با توجه به آیات متبرکه و احادیث فوق به این نتیجه می رسیم که؛ علم و دانایی وسیله شناسایی خود و خالق جل جلاله است، و این وقتی مقدور می شود که علم و عمل با هم ملحق شوند، بعد از کسب علم و دانایی بر ما لازم است تا با استفاده از علم و دانش خود برای آسایش و رفاه هم وطنان و شگوفایی ملک خویش کوشش و تلاش نماییم.

والدین محترم!

در سال جدید تعلیمی برای رسیدن به یک هدف بزرگ همه با هم قدم بر می داریم، تا باشدبرای خود و نسل های آینده یک ملک پیشرفته و خود کفا به ارث بگذاریم. بدون تردید رسیدن به این هدف بزرگ بدون آموختن علم غیر ممکن است، زیرا با فراگیری علم در وجود انسان فضیلت های بی شماری رشد و به قوام می رسد، مانند؛ سلوک نیک، کمک و همکاری با همدیگر، عدالت، مهربانی، امانت داری، صداقت، صبر و شکیبایی، وفا، حیا، قوت، تواضع، سخاوت، شجاعت و نیرومندی که نتیجه آن باعث ایجاد یک جامعه مرفه می شود.

هرگاه سجایای نیک یاد شده همراه با علم و به ویژه علوم اسلامی در جسم ما جاگزین شود، پس معلومدار است که؛ ظلم، جنایت، خرافات پسندی و سایر مظاهر منفی و رسوم ناپسندیده از جامعه محوه می شود، فضای اطمینان به میان آمده و تمام مردم در صلح و برادری زیست می کنند و سر انجام زمینه پیشرفت و ترقی مساعد می شود.

هم وطنان عزیز!

ثبت نام اطفال واجد شرایط به مدارس و مکاتب در سطح کشور جریان دارد، عجله کنید فرزندان تان را به مراکز تعلیمی یاد شده شامل کرده و آینده روشن و تابناک را برای شان رقم زنید.

**والسلام**
**الحاج مولوی حبیب الله آغا**
**وزیر معارف**

## د امام ابو یوسف نمونوي لیسې لپاره د ښوونکو جذب په موخه آزموینه واخیستل شوه

د پوهنې وزارت د ځانګړې کرنلارې له مخې د امام ابویوسف نمونوي لیسې د ښوونکو اړوند خالي بستونو لپاره د سلګونو تنو څخه د آزادې سیالۍ له لارې آزموینه واخیستل شوه۰

د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا رئیس محترم مولوي محمدابراهیم عمري د آزموینې له بهیر څخه د څارنې پر مهال وویل: په یادو بستونو کې چې مخکې اعلان ته سپارل شوي وو، د ښوونکو ۱۳ بېلابېل بستونه شامل وو، چې ټولټال ۷۱۷ تنو ورته نوملیکنه کړې وه چې له دې ډلې څخه ۲۷٦ تنه په شرایطو برابر وپېژندل شول او ترې آزموینه واخیستل شوه.

نوموړي ډاډ ورکړ چې د آزموینې ټول پړاوونه به تر هراړخیزې او شفافې ارزونې وروسته پلي او وړ کادرونه به په یادو بستونو کې وګمارل شي۰

## وقف بیش از ۱۱ جریب زمین از سوی مردم به معارف ولایت بادغیس

ساکنان معارف‌دوست ولسوالی‌های قادس، دره بوم، تگاب عالم، جوند و مرکز ولایت بادغیس، حدود ۱۱ جریب و ۷۷۵ مترمربع زمین را به هدف اعمار مراکز تعلیمی به ریاست معارف آن ولایت اهدا کردند.

محترم الحاج مولوی محب الله احسان رئیس معارف ولایت بادغیس در مورد گفت: این زمین‌ها که ارزش آن به ۳ میلیون، ۵۳۲ هزار و ۵۰۰ افغانی می رسد از سوی وزارت معارف به‌منظور اعمار مکاتب و مدارس در این ولسوالی‌ها به کار گرفته خواهد شد.

رهبری وزارت معارف از حمایت های مردم معارف دوست ملک از جمله باشندگان ولایت بادغیس برای اهدای زمین به معارف قدردانی کرده و آن را در زمرۀ صدقات جاریه آن ها می داند.

## د ۱۴۰۴ کال په بهیر کې د ملک په کچه سلګونه تعلیمي او اداري ودانۍ ترمیم شوې دي

د پوهنې وزارت د ودانیو او املاکو د ساتنې رئیس محترم مولوي سمیع‌الحق حماس وایي د ۱۴۰۴ لمریز کال له پیل تر دې مهاله د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې وزارت اړوند ۷۳۱ ودانیو ترمیماتي چارې بشپړې او کټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

هغه زیاته کړه په یادو رغنیزو پروژو کې د مدرسو، ښوونځیو او ادارو ودانۍ شاملې دي چې ټولټال لګښت یې ۳۷۰ میلیونه، ۵۳۶ زره او ۸۳۵ افغانۍ او ۲۵۲ زره ۳۸۶ امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د یادو شمېرو له ډلې ۴۵۵ پروژې د پوهنې وزارت له عادي بودجې او پاتې ۲۷۶ د همکارو بنسټونو له لوري تمویل شوې دي.

پوهنې وزارت ژمن دی چې د ملک په کچه د وطن بچیانو ته متوازنې تعلیمي آسانتیاوې برابرې او په دې برخه کې د علم‌دوسته هېوادوالو له مادي او معنوي ملاتړ مننه او قدرداني کوي.



## توزیع ده ها هزار جلد کُتب درسی برای شاگردان مکاتب در کابل

مسئولان در ریاست معارف ولایت کابل میگویند به اساس سهمیه این ولایت حدود ۱۰۴ هزار و ۱۵۹ جلد کتاب درسی از سوی وزارت معارف دریافت کرده است که جهت توزیع به شاگردان مکاتب به آمریت‌های معارف ولسوالی ها ارسال شده است.

بر اساس معلومات مسئولان ریاست معارف ولایت کابل کتاب‌های یادشده مربوط نصاب تعلیمی معارف بوده که شامل صنوف اول تا دوازدهم به هردو زبان( دری و پشتو) می باشند. آنان ابراز امیدواری میکنند که با توزیع این کتاب ها مشکلات بخش بزرگ از شاگردان کابل از ناحیه کمبود کتاب مرفوع خواهد شد.



**هیڅ ملک له علم پرته پرمختګ نشي کولای، که غواړئ ملک مو پرمختګ وکړي نو راتلونکي نسلونه او ماشومان مو د علم او پوهې په ګانه سمبال کړئ**